# (A) برخه د مغزلرونکو او میوو د تولید تشخیص کول

**دوهم لوست یا درس: زمونږ په ټولنه کي د مغزلرونکو او میوو د تولید اهیمت او ازرښت.**

# اصطلاح ګاني

- زيبای( ښکلآ)
- بانس

I مغزلرونکي او میوي زمونږ د ژوندانه د بهبود په برخه کي له مختلفو لارو چارو څخه مرسته او کومک کوي.

**الف)** میوي او مغز لرونکي زمونږ د ورځنی غذا یا خوراکي یو له مهمو برخو څخه تشکیل کوي.

۱. میوي یا میوه جات لکه ستروس زمونږ لپاره د ویټامین سي (C)په برابرولو کي مرسته او کومک کوي او مغز لرونکي لکه غوزان یا چهارمغز د اساسي یا بسټیزو شحمي اسیدونو یا تیزابونو لرونکي دي چي زمونږ د وجود صحت والی تقویه کوي.

**ب)** میوي زمونږ لپاره د غذا یا خوراکي رژیم یوه اساسي یا بنسټیزه برخه تشکیلوي یا جوړوي**.**

۱. هغوي یعني میوي ویټامینونه او د بدن د ضرورت یا اړتیا وړ منرالي مواد زمونږ لپاره تهیه او برابروي.

۲. هغوي یعني میوي شحمیات یا غوړي او ضروري یا اړین فایبرونه د میتابولیزم(جوړیدنه او تخریبیدنه) او د غذا یا خوراکي هضم مهیا یا برابروي.

۳. میوي او سابه یا سبزي جات د یو صحي غذایي یا خوراکي رژیم لپاره ضروري یا اړینې دي او په بازار یا مارکیټ د یوه لوړ او اوچتې غوښتنې لرونکي دي.

II. د مغز لرونکو او میوو د ونو یو له مهمو جنبو څخه دا ده چې ترڅو په کورونو یا ودانیو کې ښکلا لرونکې مناظر منځته راوړل شي.

**الف)** نباتات په باغونو او منظرو کې ښکلا منځته راوړي او یا هم محیط یا چاپیریال زړه راښکونکی کوي.

۱. له دې څخه برعلاوه چې د کورونو یا ودانیو د ډیزاین په ښکلا کې برخه اخلي، د هغوی میوې اخستل کیږي او تر استفادې لاندې نیول کیږي.

ب) د کورونو یا دوانیو باغونه د محیط یا چاپیریال او خلکو په منځ کې د روابطو یا اړیکو د جوړولو په برخه کې مرسته او کومک کوي .



III. د مغز لرونکو او میوو یو له هغه جنبو ځخه چي نا پیژندلی پاته دا ده چي هغوي د تفریحي یا ساعت تیرۍ په توګه تر استفادې لاندې نیول کیږي.

**الف)** خلکو له هغو بسایاوو یا خودکفایۍ ځخه چي په خپلو کورونو یا ودانیو کي یي د مغز لرونکو او میوو له کښت او خوړلو ځخه په لاس راوړي، خوند اخلي.



ب) د میوه جاتو یا میوو او سبو یا سبزیجاتو کښت او کرنه د بدني یا فزیکي تمریناتو ، همدارنګه د سترړتیا د رفع او رواني حالت یا مغزي حالت د بهتر والی یا غوره والی د مهیا کولو لپاره زمینه برابروي.



١. د بانس کښت یا کرنه چي د باغوانۍ یو له معمولي یا عادي فعالیتونو څخه شمیرل کیږي چي په هغې کي د میوو له ونو څخه استفاده کیږي
٢. بانس له یوي وني یا وړي ونکۍ څخه عبارت دی چي نمو یي د ښاخ پریکونې له لاري، ریښي او جوانې اخستنې له لاري لنډیږي او د یو ضرف یا لوښي یا کانتینر په داخل کي کښت کول کیږي او د شکل ورکولو په منظور او هغوي ته د اثر ورکولو له مخې تربیه او تر پالنې لاندې نیول کیږي.



ج) باغونه یا بڼونه د کورنیو لپاره د پروژو د منځته راوړلو لپاره فرصت یا موقع منځته راوړي.



# مرور یا تکرار او خلاصه یا لنډیز

1. د مغزلرونکو او میوو د غذایي یا خوراکي ارزښت تشخیص کول څه دي؟.
2. د کورونو یا ودانیو په مناظرو کي د مغزلرونکو او میوو د زینتي یا ښکلا د باغونو د اهمیت او ارزښت تشریح او روښانه کول څه دي؟.
3. د مغز لرونکو او میوو د باغونو یا بڼونو د تفریحي یا ساعت تیرونې د ارزښت تشریح او روښانه کول څه دي؟.